د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**شماره: ۳۱۱**(از ۲۹ سرطان الی ۵ اسد ۱۳۹۸ هـ ش)

**این نشریه مجموعهٔ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی، امنیتی، اقتصادی و اجتماعی هفته‌واری است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار و مراجع پالیسی‌ساز از آن استفاده نمایند.**

---

آنچه در این شماره می‌خوانید:

**امریکا ته د عمران خان سفر او په افغان سوله يې اغېزې**

د امریکا او پاکستان اړیکو ته ځغلنده کتنه ........ ۲

د وروستي سفر ځانګړتیاوې ........ ۳

ولې په یو ځل ټرمپ پاکستان پلوی شو؟ ........ ۴

د افغان سولې په اړه د امریکا ولسمشر او پاکستان لومړي وزیر څرګندونې ........ ۵

پایله ........ ۵

**ارزیابی فساد اداری در شورای ملی**

بخش‌های آسیب‌پذیر در شورای ملی ........ ۶

- روند قانون‌گذاری
- نظارت تقنینی
- اصول رفتاری
- معیارهای اخلاقی
- ظرفیت های اداری و مالی

نیتجه‌گیری ........ ۸

سفارشات برای مبارزه با فساد در شورای ملی ........ ۹

## امریکا ته د عمران خان سفر او په افغان سوله یې اغېزې



په ۲۰۱۷ م کال کې د امریکا ولسمشر په توګه د ډونالډ ټرمپ تر ټاکل کېدو وروسته نوموړي پر پاکستان د خپل هېواد مرستې ودرولې، او یاد هېواد ته یې د ترورېستانو سره د همکارۍ په پار چې نوموړي ترورېستانو په افغانستان کې وران کاري کارونه تر سره کوي، سخت ګواښونه وکړل، چې دې کار د دواړو هېوادونو اړیکې خورا خرابې کړې، خو پاکستان ته د امریکایي چارواکو سفرونه او د عمران خان لخوا د محمد بن سلمان درېیم ګړي توب او په ځانګړې توګه په افغان سوله کې د رول ښودلو په وجه د پاکستان او امریکا اړیکو لپاره د بې باورۍ کړکۍ نیمه بنده کړه، چې په پایله کې د ټرمپ لخوا عمران خان ته د امریکا سفر بلنه ورکړل شوه، چې د جولای په 21 مه نېټه نوموړي یاد هېواد ته درې ورځنۍ رسمي سفر وکړ، دا چې د نوموړي دا سفر به د دواړو هېوادونو په اړیکو ښه‌کولو کې څومره ګټور تمام شي، او پر افغان سوله به یې اغېز څه وي څه، په دې تحلیل کې پرې شننه شوې.

### د امریکا او پاکستان اړیکو ته ځغلنده کتنه

د پاکستان جوړېدو وروسته د امریکا سره د یاد هېواد اړیکې د دوستۍ او کرکې پړاوونو وهلو سره را روانې دي، او دواړو هېوادونو تر اوسه په اقتصادي، سوداګرۍ، ترهګرۍ ضد، او انرژۍ برخه کې له یو بل سره د لوړو ژورو ډکې اړیکې درلودلې دي. د 2001 م کال وروسته چې امریکا پر افغانستان نظامي یرغل تر سره کړ، پاکستان د امریکا سره په یاد یرغل کې مرسته وکړه، خپلې هوایي او ځمکنۍ لارې یې ورته پرانیستې، او ډېرۍ طالب مشران چې امریکا یې په لټه کې وه، لاس نیولي امریکا ته وسپارل. خو له بلې خوا د هغو ډلو سره د مرستې کولو څخه یې هم لاس وانخیست چې په افغانستان کې د امریکا شتون له ګواښ سره مخ کړی. دا وضعیت سپینې ماڼۍ ته د ولس مشر ټرمپ تر راتګه تر یو حده روان ؤو، مګر ټرمپ د خپلې بریا وروسته د پاکستان دا وضعیت د زغم وړ و نه باله، او تېر امریکایي مشران یې د

پاکستان سره په فوځي، اقتصادي او نظامي مرستو کولو پړه وبلل. او ټولې هغه مرستې چې امریکا له پاکستان سره هر کال ترسره کولې په یو ځل ودرولې. ټرمپ پاکستان ته ګواښ وکړ، که د ترورېستانو پر ضد عملي قدمونه وانخلي، پراخه بندیزونه به پرې هم ولګوي، چې د لومړي وزیر په توګه د عمران خان تر ټاکل کېدو وروسته نوموړي ته یو له سختو ننګونو د امریکا سره د اړیکو رغولو موضوع په میراث را پاتې شوه، چې په دې اړه عمران خان د امریکا سره د اړیکو په رغولو کې ډېر سنجیده قدمونه واخستل چې په پایله کې به دې وتوانید له امریکا سره خړې اړیکې ښې کړي.

## د وروستي سفر ځانګړتیاوې

امریکا ته د لومړي وزیر په توګه د عمران خان رسمي سفر توپیر د پاکستان د پخوانیو لومړي وزیرانو د سفرونو سره په دې کې دی، چې دا ځل د ملکي حکومت استازو ترڅنګ د فوځ او استخباراتو ادارو مشران قمر جاوید باجوه او فیض حمید هم په دې سفر کې د نوموړي ملتیا کوله هغه ادارې چې نه یوازې په کور دننه بلکې د نړۍ په سطحه پرې ګومان کېږي، چې پخوانی لومړی وزیر نواز شریف یې د سیمې هېوادونو سره په اړیکو رغولو او په ځانګړې توګه په افغانستان کې د نه مداخلې پالیسۍ په غوره کولو تر زندان ورساوه، ښایي همدا وجه وه، چې نواز شریف د خپل حکومت په دوران کې د بهرنیو چارو وزیر څوکۍ خالي پرېښې وه، ترڅو نړۍ ته په غیر مستقیم ډول یو پیغام ورکړي، چې پاکستان کې د حکومت اصل واګې د یادو ادارو په لاس کې ده.

په امریکا کې د خان هرکلی د خپل هېواد د بهرنیو چارو وزیر شاه محمود قریشي او په امریکا کې د پاکستان سفیر اسد خان وکړ د ده هرکلي ته هېڅ کوم لوړ پوړی امریکایي چارواکی نه ؤو راغلی.

همدارنګه عمران خان په دې سفر کې په امریکا کې د مېشتو پاکستانیانو ټولنې څو زره کسیزې غونډې ته هم اوږده وینا وکړه، چې په کور دننه مخالفینو نیوکې او د نوي پاکستان هغه نعرې چې د ټاکنو وړاندې یې ترسره کولې بیا ځلې یادې کړې، په دې سفر کې د ده اصلي موخه د ولسمشر ټرمپ سره د اړیکو رغول تر څو ټرمپ په دې قانع کړي چې بېرته له پاکستان سره په اقتصادي او نظامي برخو کې مرستې پیل کړي.

## ولې په یو ځل ټرمپ پاکستان پلوی شو؟

امریکا په ځانګړې توګه د ټرمپ اداره پاکستان ته د افغانستان له اړخه ګوري، او په افغانستان او سیمه کې د امریکا ګټو خوندي کولو لپاره د یاد هېواد مرسته اړینه ګڼي، بلخوا که چین د پاکستان لپاره د یو ښه او مناسب واردوونکي هېواد په توګه پېژندل کېږي، امریکا بیا د پاکستان لپاره د یو ښه صادروونکي هېواد په توګه پېژندل کېږي، او په جنوبي آسیا کې د خپلو ګټو خوندي کولو لپاره پاکستان د امریکا لپاره ځانګړې ارزښت لري او امریکا نه غواړي په آسانۍ یاد هېواد له لاسه ورکړي. خو کله چې د پاکستان او امریکا اړیکې خرابې شوې او د امریکا ولسمشر ټرمپ پاکستان د یو درواغجن او دوکه کوونکي هېواد په توګه یاد کړ، چې ګواکې د امریکا مرستو په مقابل کې یې د امریکا سره هغسې چې شوني وه، مرسته نه ده کړې او نه یوازې خپلې ټولې مرستې یې پر یاد هېواد ودرولې، بلکې د بندیزونو لګولو ګواښونه یې هم وکړل، پاکستان خپل سیمه‌ییز ارزښت ته په کتو، یاد هېواد ته د امریکایي چارواکو وروستیو سفرونو او د سعودي ولیعهد محمد بن سلمان دربیم ګړي توب، د هند او افغانستان د الوتنو پر وړاندې هوایي حریم پرانیستل او په ځانګړې توګه امریکا ته په افغان سوله کې د ښه رول اداء کولو نیت په ښودلو، وکولی شول ترڅو امریکا سره د خپلو اړیکو په

ښو کولو کې ګټه پورته کړي. په پایله کې امریکا د بلوچستان بېلتون پاله ډله د نړۍ والو تروریستانو په ډله کې ورشامله کړه، هغه کار چې پاکستان یې له مودې راهیسې انتظار وېسته، او پاکستان د معمول په څېر د امریکا د بیا ځلې دوکه کولو لپاره د حافظ سعید نیول اعلان کړل، هغه څوک چې د ۲۰۰۱ م کال را وروسته پاکستان د نړۍ والو فشارونو په وړاندې وخت پر وخت د شپږ ځلو زیات نیولی خو بېرته یې خوشې کړی، چې هند د حافظ سعید نیونه د وخت مناسبت سره کار بولي، خو د امریکا ولسمشر د پاکستان د دغه اقدام په وړاندې ډېرې ښې خوښي وښودله، او حافظ یې هغه څوک یاد کړ، چې امریکا یې د نیولو په لټه کې وه، په داسې حال کې چې حافظ سعید په ښکاره ډول په پاکستان کې لاریونونو او جلسو کې برخه درلوده.

## د افغان سولې په اړه د امریکا ولسمشر او پاکستان لومړي وزیر څرګندونې

د افغان سولې په وړاندې تر اوسه یوازې د غونډو او لیدنو او کتنو په برخه کې پرمختګونه شوي او عملي او اساسي پرمختګونو په وړاندې یې افغان ولس کوم ځرک نه ګوري، نو د افغان سولې په اړه د امریکا ولسمشر او د پاکستان لومړي وزیر وروستۍ څرګندونې چې دواړو یو له بل سره د لیدو پر مهال کړې، ښایي د افغان ولس لپاره یو ښه زیری و نه اوسي، ځکه که له یوې خوا افغان سوله د پاکستان د لومړي وزیر د سفر اجنډا اړینه برخه جوړوي، چې امریکا لپاره یې د پاکستان ارزښت لاپسې ور زیات کړ، په دې برخه کې د فوځ او استخباراتو مشرانو لاربښوونې هم ورسره مل وې، خو له بلې خوا په دې برخه کې د سپینې ماڼۍ او پنټاګون غبرګونونه ښایي توپیر ولري. ځکه د سیاست په ډګر د ټرمپ تجربه نوې او حیرانوونکي ده، او پنټاګون ښایي د افغان سولې ټول کریډېټ پاکستان ته هغسې ور نه کړي لکه ولسمشر ټرمپ چې د یوې لیدنې په ترڅ کې پاکستان ته ور ډالۍ کړ، او د افغانستان په اړه یې بې مورده او غیرې ډیپلوماټیکي څرګندونې چې که امریکا وغواړي افغانستان په یوه اوونۍ کې له نقشې لرې کولی شي. د افغانستان په اړه دغه ډول سپکې څرګندونې د دې ښکارندویي کوي چې د امریکا او پاکستان له لوري د افغان سولې په اړه کومه بټه معامله ترسره شوې. د ټرمپ وروستیو څرګندونو د کابل ادارې په ګډون د افغان اوسنیو او پخوانیو مشرانو سخت غبرګونونه راوپارول او کابل له امریکا څخه د یادو څرګندونو په اړه د وضاحات غوښتنه هم وکړه، چې پخواني ولسمشر حامد کرزي د حکومت دا غبرګون کمزوری وباله، او امریکا ته یې آن د وتلو ګواښ وکړ. په پاکستان کې د طالبانو پخواني سفیر ملا عبدالسلام ضعیف په خبره چې د سیمې هېوادونه نه غواړي چې په افغان سوله کې دې عملي پرمختګونه رامنځ ته شي، او هغوی یوازې د خپلو ګټو په خاطر د افغان سولې په اړه کېدونکو غونډو کې د ګډون لېوالتیا ښیي.

## پایله

باید ووایو چې افغان حکومت د سولې طبیعي روند ته په څېړې وهلو او پاکستان ته په دې اړه د رول لوبولو بلنه ورکول یوه ستره تېروتنه وه، په خواشینۍ سره باید ووایو چې په دې کار سره یې له یوې خوا بین الافغاني خبرو اترو ته لویه ضربه ورکړه او له بلې خوا یې پاکستان ته یو وار بیا چانس ورکړ تر څو له اوږدې انزواء نه پس بیا د افغانستان وصي( سفارش کوونکی) له ځان نه جوړ کړي او سپینه ماڼۍ په دې قانع کړي چې لکه پخوا افغانستان ته د پاکستان له عینکو څخه وګوري.

د افغان سولې موضوع څخه په ګټې اخیستنې پاکستان وکولی شول، چې نه یوازې امریکا سره خپلې اړیکې ورغوي، بلکې د کشمیر موضوع په اړه یې هم د امریکا ملاتړ را خپل کړ. هغه موضوع چې پاکستاني چارواکو وخت پر وخت د افغان سولې سره مل او تړلې موضوع ګڼلې وه. خو له بلې خوا د پاکستان لپاره تر ټولو اړینه موضوع د امریکا د مرستو را جلبول وو، ځکه اقتصادي ستونزه د یاد هېواد لپاره لویه ستونزه ده، او ښایي په افغان سوله کې د پاکستان دومره پراخه ونډه ښودنه هم د همدې کار لپاره شوي وي.

خو په ظاهره پاکستان د دې مرستو په راجلبولو کې بریالی نه ښکاري، او د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ د خپل هېواد ګټو ته په کتو په افغان سوله کې د پاکستان رول ارزښتمند وباله، او د کشمیر موضوع حل کولو لپاره یې د هند او پاکستان ترمنځ د دربیم ګړي توب لېوالتیا هم وښوده، چې هند بیا د ټرمپ څخه د دربیم ګړي توب هیلې ښکار کولو غوښتنه رد کړه او دا موضوع یې یوازې د دواړو هېوادونو ترمنځ موضوع ګڼلې. افغان دولت او افغان طالبان باید دا درک کړي، که پاکستان او امریکا د خپلو ملي ګټو لپاره دومره نږدې کېدی شي، دوی باید هم د بین الافغاني خبرو لپاره د زمینې برابرولو دا نایاب چانسونه له لاسه ور نه کړي، او عملي قدمونه پورته کړي، څومره زر کېدی شي د افغان سولې په برخه کې افغان ولس ته یو ښه او عملي زیری ورکړي، افغانستان کولی شول د پاکستان اقتصادي ستونزو ته په کتو او د چین له لوري پر پاکستان د فشار راوړلو په نتیجه کې د افغان سولې پر وړاندې خنډونه له منځه یوسي، خو په افغانستان کې د امریکا له لوري د دوه ګوني او کمزوري حکومت رامنځ ته کول دا هیلې له منځه وړي، چې افغان مشران یې باید په راتلونکي کې په اړه لازم تصمیمونه ونیسي.

## شورای ملی و قضیۀ فساد اداری در آن



به‌تاریخ ۳۰ سرطان، کمیتۀ مستقل نظارت و ارزیابی مبارزه با فساد اداری یا میک (MEC) گزارشی را در مورد آسیب‌پذیری‌های فساد اداری در شورای ملی کشور به نشر رساند که در آن تحلیلی از آسیب‌پذیری-های فساد اداری در سه زمینۀ کار شورای ملی: الف) چارچوب‌های قانونی و سازمانی، ب) اصول رفتاری و معیارهای اخلاقی، و ج) ظرفیت‌های انسانی، مالی و اداری ارائه شده است.

ارزیابی یادشده در مدت یک سال انجام شده است و ضمن تشخیص بخش‌های آسیب‌پذیر در برابر فساد اداری در شورای ملی، سفارشات عملی را جهت رسیدگی به این آسیب‌پذیری‌ها پیشکش می نماید.

این‌که کار دوره گذشته شورای ملی تا چه اندازه موثر بوده است، پارلمان تا چه حد وظایف‌اش را انجام داده است، کدام بخش‌های کار پارلمان در برابر فساد اداری آسیب‌پذیر است و پارلمان چه نقشی در مبارزه با فساد اداری و تطبیق اصلاحات در سطح کشور ایفا نموده است، مواردی است که در تحلیل این هفته به بحث در مورد آن می پردازیم.

## بخش‌های آسیب‌پذیر در شورای ملی:

### ۱. روند قانون‌گذاری

گزارش کمیتهٔ نظارت و ارزیابی مبارزه با فساد اداری در پیوند به شیوه‌های عملکرد پارلمان در قانون‌گذاری و نظارت تقنینی، کاستی‌های جدی را بیان نموده که این نهاد ملی را در برابر فساد اداری آسیب‌پذیر می‌سازد.

روندهای قانون‌گذاری از شفافیت کافی برخوردار نیستند. بر اساس حکم ماده نزدهم قانون طرز طی مراحل نشر و انفاذ اسناد تقنینی، ادارات «به منظورغور، ارزیابی و غنامندی بیشترطرح ابتدائی، علاوه از نمایندگان ادارات ذیربط ومتخصصین عرصهٔ مربوط، از نمایندگان با صلاحیت مؤسسات علمی-تحقیقاتی وجامعهٔ مدنی نیز» دعوت به عمل می‌آورد. در دورهٔ گذشته شورالی ملی، در اکثر اوقات این مورد در نظر گرفته نشده است. برعلاوه، نظارت و پیگیری از روند قانون‌گذاری غیرمعیاری است، به گونه‌ی که معلومات در مورد تعداد قوانین تصویب شده از سوی ولسی جرگه و مشرانو جرگه دقیق نیست.

اعضای شورای ملی در زمینهٔ تهیه و ترتیب مسوده قانون از ظرفیت تخنیکی کافی و دانش قانونی لازم برخورداد نیستند. قانون اساسی کشور در حالی که برای اعضای کابینهٔ دولت داشتن تحصیلات عالی را شرط نموده است، برای اعضای شورای ملی چنین شرطی موجود نیست.

از سوی دیگر حکومت، شورای ملی را بیشتر به دید یک نهادی می‌بینند که باید زیر کنترول قوهٔ اجرائیه باشد. این وضعیت در بسیاری از موارد شورای ملی را از پذیرفتن ابتکارات حکومت باز می‌دارد.

اعضای ولسی جرگه بخش عمدهٔ وقت خویش را صرف بحث پیرامون فرمان‌های تقنینی رئیس جمهور می نمایند. این امر باعث می شود تا برای بحث و کار روی سایر قوانین زمان کافی واگذار نگردد. بر اساس قانون، رئیس جمهور صلاحیت دارد در جریان رخصتی شورای ملی، فرمان‌های تقنینی صادر نماید. قوانینی که از راه فرمان‌های تقنینی نافذ شده اند باید در ظرف ۳۰ روز بعد از آغاز نشست جدید شورای ملی، جهت بررسی به این شورا سپرده شوند. این کار نه تنها باعث فشار بیشتر کاری بر جرگه می گردد، بلکه جلو بحث در مورد قوانین دیگر را نیز می‌گیرد.

### ۲. نظارت تقنینی

بر بنیاد یافته‌های ارزیابی اخیر، روندهای نظارتی در شورای ملی غیر موثر و ناکارآمد استند و بیشتر نماینده‌گان پارلمان در تعریف و انجام وظیفهٔ نظارتی، منافع شخصی را در نظر می گیرند. در زمینهٔ

استیضاح وزیران، بیشتر اوقات، دلایل موجهی برای استیضاح وجود ندارد و آنان در رابطه به موضوعات غیرمربوط و غیرضروری استیضاح می‌شوند.

همچنان، قانون اساسی کشور احکام صریح در مورد میکانیزم‌های مشخص برای حل منازعات میان حکومت و شورای ملی ندارد.

این و دیگر آسیب‌پذیری‌ها، نگرش عمومی را که شورای ملی وظایف‌اش را به شکل یکنواخت و باشفافیت بالا انجام نمی‌دهد، تقویت می‌نماید.

### ۳. اصول رفتاری

شمار زیادی از اعضای شورای ملی، بخشی از اصول رفتاری این شورا را که مربوط به تضاد منافع می شود، نادیده می‌گیرند و در داوطلبی برای قراردادهای دولتی دخالت دارند. علاوه بر آن، بسیاری از اعضای شورای ملی تا به حال دارایی‌های شان را ثبت و اعلان نکرده است.

ضمن آنکه برخی از نماینده‌گان خود را فراتر از قانون می‌پندارند، فساد گسترده در پیوند به مصارف اعضای شورا، لابی گری برای پول نقد و رشوت یا پذیرفتن تحفه‌های غیرقانونی، وجود دارد.

### ۴. معیارهای اخلاقی

ارزیابی کمیتهٔ نظارت و ارزیابی مبارزه با فساد اداری به تبعیض در پیاده ساختن اقدامات تأدیبی اشاره دارد و بیان می نماید که در میان نماینده‌گان شورای ملی فرهنگ معافیت وجود دارد. در حالی‌که ناتوانی و تبعیض در تأدیب اعضای شورا پاسخگویی آنها را دشوارتر می‌نماید، شیوع فرهنگ معافیت در میان نماینده‌گان دستگیری و محکوم ساختن آنان به جرم را نزدیک به ناممکن می‌سازد.

### ۵. ظرفیت های اداری و مالی

روند استخدام در درالانشاهای شورای ملی نیاز به شفافیت بیشتر دارد، زیرا شمار زیادی از کارمندان داخلی شورا بر اساس شناخت و روابط خانوادگی گماشته شده اند. عدم موجودیت کارشیوه‌های عملی برای تفتیش داخلی منظم و نظارت از مصارف شورا، آسیب‌پذیری این بخش شورا را در برابر فساد اداری بیشتر ساخته است. بالاخره، جهت شفافیت بیشتر در تخصیص منابع شورا، ضرورت به داشتن سیستم بهتر برای معاشات همراه با کنترول‌های شفاف، دیده می شود.

## نیتجه‌گیری

شورای ملی قبلی افغانستان به جای آنکه به گونهٔ یک نهاد قانون‌گذار و ناظر بر عملکرد حکومت، در بخش مبارزه با فساد اداری کارکرد موثر داشته باشد، در بسیاری از موارد خود برخی از مشکل بوده است.

پروسه های قانون‌گذاری و نظارت در برابر فساد اداری آسیب‌پذیر بوده، اصول رفتاری و معیارهای اخلاقی در اکثر موارد نادیده گرفته می شود و ظرفیت های اداری و مالی در دارالانشاهای این شورا ضعیف اند.

دوره فعلی پارلمان، با آنکه نگرانی‌هایی در زمینهٔ معامله‌گری‌ها بر سر انتخاب رئیس ولسی جرگه، معاونین جرگه و رؤسای کمیته‌ها وجود داشت، فرصت اعاده حیثیت و نام نیک این نهاد مهم ملی را دارد. این دوره از شورای ملی از طریق قانون‌گذاری شفاف و نظارت موثر و نیز از راه ارائهٔ نمونه‌های مطلوب رفتاری و اخلاقی، می تواند اعتماد عمومی از دست رفته را به شورا برگرداند.

**سفارشات برای مبارزه با فساد در شورای ملی**

گزارش کمیتهٔ نظارت و ارزیابی مبارزه با فساد اداری سفارشات عملی را برای کاهش آسیب‌پذیری‌های فساد اداری در شورای ملی ارائه نموده است. تطبیق این سفارشات تا حد زیادی به این برمی‌گردد که دارالانشاهای شورای ملی تا چه اندازه توانایی و ارادهٔ تغییر این نهاد ملی به یک نهاد موثرتر را دارد.

برای بالا بردن سطح شفافیت در رابطه به آماده ساختن مسوده اسناد تقنینی، لازم است شورای ملی مواردی مانند: تدویر نشست‌های مشورتی، شریک ساختن مسودهٔ پیشنهادی در وبسایت رسمی شورا و شبکه‌های اجتماعی و وادار ساختن به رسیدگی به همه نظریات پیش از فرستادن مسوده به پارلمان، را اجباری نماید.ایجاد گروه‌های پارلمانی جداگانه برای کار بر تأئید یا رد فرمان‌های تقنینی رئیس‌جمهور و کار بر دیگر مسائل تقنینی می تواند از تعطیل در تصویب قوانین جلوگیری نماید.بمنظور تغییر نظر عمومی در مورد پارلمان کشور، این نهاد باید کارهای خویش را با شفافیت بیشتر و یکسان با معیارهای بالای مسلکی انجام دهد.ضرورت است تا طرزالعمل روشن سوءاستفاده از معافیت به حیث یک اقدام تأدیبی ایجاد گردد و مجموعه‌یی از معیارها وضع گردد تا در پایان دادن به فرهنگ معافیت اعضای پارلمان، ممد واقع شود.پروسه‌هایی که باعث افزایش چشمگیر معاشات اعضای شورای ملی گردیده است، باید جداً بررسی گردد و نیز جهت استفاده عادلانه از منابع توزیع شده، تمام امکانات و تجهیزات مربوط به شورا مورد بررسی قرار گیرد.

---

**ارتباط با ما:**

**ایمیل:** csrskabul@gmail.com - info@csrskabul.com

**ویب‌سایت:** www.csrs.com -- www.csrs.af

**شمارهٔ تماس دفتر:** (+93) 202564049 - (0) 784089590 93 +

لطفا نظریات و پیشنهادات خود را جهت بهبود مطالب این نشریه به ما ارسال دارید.